**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د طبیعي - تخنیکي علومو د برخې معاونیت**

**د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز**

# د مــقالو غــوښــتنه

**په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د کرنیزو او مالداری نویو ټکنالوژیو ارزونه** ترسرلیک لاندې علمي- څېړنیز سـیمینار چې د کرنې او مالداری په برخه کې د نویو ټکنالوژیو ارزونې او پېژندنې په موخه ترتیب شوی دی، ترڅو د پرمختللو ټکنالوژیو په ارزونې سره د خوړو تولید په زیاتوالی، د محصــول کیفیت په لوړوالي او کرنیزو ضایعاتو په راکمولو کې مرسته وشي او د خوړو خوندیتوب ته لاره هواره شي . د افغانســتان علومو اکاډمی د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز ریاست، د موضوع اهمیت او اړتیا ته په کتو د دې سیمینار د تنظیمولو پرېکړه کړې. تمه ده چې د پوهانو، څېړونکو، د اړونده سکتورونو مســؤلینو او استادانو فعال ګډون سره د دې علمي سیمینار په مرسته په هېواد کې یو شمېر ستونزو حل ته لاره هواره شي.

## د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو عنوانونه:

- ۱- د کرنیزو او مالداري معلوماتو د راټولو په موخه د GIS او Remote Sensing د کارونې ارزونه
- ۲- د غذايي امنیت په تأمین کې د نانو سرو د رول په اړه څېړنه
- ۳- په هېواد کې د خوړه ایز خوندیتوب په موخه د غذايي موادو د حرارتي او غیرحرارتي ساتنې پروسس په اړه څېړنه
- ٤- د حیواني جېرې د بدلېدنې په موخه د ورزیانبدونکو کیمیاوي موادو ارزونه
- ۵- د غذايي مصئونیت او امنیت په تأمین کې د کیفیت کنترول وندې
- ٦- د غذايي امنیت په موخه د اقلیمي بدلون او وچکالیو د ناوړو اغېزو په کمولو کې د نویو ټکنالوژیو ارزونه
- ۷- په هېواد کې د غذايي امنیت د تأمین په موخه د مصنوعي غوښو په تولید کې د نویو ټکنالوژیو ونډه
- ۸- د غذايي امنیت په موخه د خوراکي توکو په ساتنه کې د نانو ټکنالوژۍ ارزونه
- ۹- د هېواد د مرغانو روزنې په فارمونو کې د هغوی د روغتیايي حالت معلومولو په موخه له نظارتي سنسورونو څخه د کټې اخیستنې څرنګوالی
- ۱۰- په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د سرپوښلې عمودي کرنې (Indoor Vertical Farming) د رول ارزونه.
- ۱۱- په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د نویو ټکنالوژیو د اړتیا او اهمیت ارزونه
- ۱۲- په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د آفت وژنې د نویو ټکنالوژیو ارزونه.
- ۱۳- په غذايي امنیت کې د ترانسجنیک نباتاتو رول.
- ١٤- په هېواد کې د بزګرانو د لګښتونو کمولو او کرنیزو حاصلاتو د ډېرولو لپاره د میکانیزه کرنې د اغېزمنتیا ارزونه
- ۱۵- په هېواد کې د غوښو او لبنیاتو د زیاتوالي په موخه د څارویو په تغذیې او روزنه کې د نویو ټکنالوژیو ارزونه
- ١٦- په هېواد کې د کرنیزو حاصلاتو په زیاتوالي کې د اصلاح شویو تخمونو او بایو ټکنالوژۍ د رول ارزونه
- ۱۷- په هېواد کې د کرنیزو حاصلاتو د تولید د لګښتونو په کموالي کې د پرمختللیو کرنیزو ماشین آلاتو د رول ارزونه
- ۱۸- په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د کب روزنې د پراختیا ارزونه
- ۱۹- په هېواد کې د کرنیزو سیمو، تحلیل او نقشه جوړونه کې د جیوانفارمتکس د رول په اړه څېړنه
- ۲۰- د کال په ټولو فصلونو کې سبو ته د لاسرسي په موخه د پرمختللیو هایدروپونیک شنو خونو د پراختیا ارزونه
- ۲۱- د مالداری او کرنیزو نویو ټکنالوژیو په برخه کې له پانګوونې څخه د ملاتړ په موخه د پالیسیو ارزونه
- ۲۲- د څارویو د نسلونو په اصلاح او محصولاتو په زیاتوالي کې د بایو ټکنالوژۍ د کارونې ارزونه
- ۲۳- د غذايي امنیت په موخه د پایښت لرونکې کرنې او مالداری په پرمختیا کې د امارتي او خصوصي بنسټونو رول
- ۲۴- په هېواد کې د کرنیزو حاصلاتو د زیاتوالي لپاره د اوبه خور د څرکو ټکنالوژیو د کاروونې ارزونه
- ۲۵- په هېواد کې د کرنیزو نویو ټکنالوژیو د ترویج او پراختیا په وړاندې د خنډونو او فرصتونو ارزونه

**د وټساپ شمېرې: ۰۷٦٦٥۰۷۹۵۲ ، ۰۷۴۷۰۹۷۸۴۵ ، ۰۷۸۱۸۴۸۴۰۴ . د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۲۰۱۲۱٦ ، ۰۷۸۳۰٦۹۳۵۸**

CS CamScanner

**د افغانستان اسلامي امارت**
**د علومو اکاډمي**
**د طبیعي - تخنیکي علومو د برخې معاونیت**
**د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز**

# د مـــقالو غـــوښـــتنه

**یادونه:** د علومو اکاډمي د طبیعي - تخنیکي علومو د برخې معاونیت له هغه قدرمنو څېړونکو، پوهانو او اســـتادانو څخه چې (په هېواد کې د غذايي امنیت په موخه د مالدارۍ او کرنیزو نویو ټکنالوژیو ارزونه) تر عنوان لاندې ســـیمینار ته د مقالو را لېږلو لېوالتیا لري، په درنښت غوښتنه کوي چې خپلې مقالې له لیکلو وروسته د ۱۴۰۴هـ ل. کال د وږي میاشتې تر ۲۰ نېټې پورې د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز ته را ولېږي. په ژورنال کې د مقالو نـــشرولو او په سمینار کې ارایه کولو لپاره د مقالو پاکنه به د پاکل شوي کمیســـون له ارزونې وروسته ترسره شي. هغه مقالې چې دې سیمینار ته رالېږل کېږي ، باید لاندې معیارونه او ځانګړتیاوې ولري:

**د علمي - څېړنیزې مقالې برخې**

۱. لنډیز (Abstract)
۲. لنډیز په ملي ژبه
۳. سریزه
۴. د څېړنې اهمیت
۵. د څېړنې مبرمیت
۶. د څېړنې موخه
۷. د څېړنې پوښتنه
۸. د څېړنې میتودولوژي
۹. د څېړنې منځپانګه
۱۰. پایله
۱۱. سپارښتنې
۱۲. په متن کې ماخذونه
۱۳. مأخذونه

**د مقالې معیارونه او ځانګړتیاوې:**

۱ .مقاله د ۵ او ۱۰ معیاري مخونو ترمنځ وي.
۲ .د متن اندازه دې ۱۲-۱۳ وي او د کرښو ترمنځ واټن Single (واحد) وي.
۳ .د عنوانونو اندازه دې ۱۴ بولډ وي.
۴ .د فارسي متن لپاره فونټ Bahij Nazanin او د پښتو لپاره فونټ B Zar وټاکل شي.

**پته:** طره باز خان واټ، د شاه بوبو جان د جومات کوڅه، نوی ښار د تېلو پمپ مخامخ، کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، د کیمیا، بیولوژي او کرنې علومو مرکز ریاست.
**د وټساپ شمېره:** ۰۷۶۶۵۰۷۹۵۲، ۰۷۴۷۰۹۷۸۴۵، ۰۷۸۱۸۴۸۴۰۴، **د اړیکو شمېره:** ۰۲۰۲۲۰۱۲۱۶، ۰۷۸۳۰۶۹۳۵۸



CamScanner